لـیـــکـــنـــه : امیرگـــران
۰۲ می ۲۰۲۰

# د کـــــــــــرونا نړیــــوال نـــــظـــم:

## دویمه برخه

امریکائي سیاسي تحلیلګر او پروفیسور نوام چامسکي خبرداري ورکړي چي د Covid-19 یا کرونا ویروس د بحران له پاي ته رسیدو به نړۍ احتمالاً له دوه غوراوي سره مخامخ شي ، یا به د مستبیدینو استثماري او ظالمانه نظامونو شمیر زیات شي او یا به په بشري ټولنو کي د انساني شرایطو پر بنسټ تغیرات رامنځ ته شي او د ۸۰ میلادي لسیزي یوطرفه "نوي نړیوال نظم New World Order " ته د پاي ټـــــــکي کیږدي.

همدا ډول چامسکي ، د امریکا په جمهور رئیس دونالډ ټرمپ په امریکا او نړۍ کي د کرونا بحران د خپریدو له امله په خپل وخت اقدام نه کول سخت انتقاد وکړ او هغه ( ټرمپ ) ئي له ټولني او بشریت سره د یوه نفرت کوونکي او مسخره په توګه یاد کړ ، هغه زیاته کړه چي لکه د **پولیو** په څیر د کرونا واکسین هم جوړیداي شواي مـــګر نیولیبرل طاعون ئي مخه ونیوله نوموړي په پاي کي وائي چي د دواجوړولو کمپنیو لپاره د باډي کریم Body cream په عوض د واکسین جوړول ډیر ګټور دي (د کرونا پاندیمي په اړوند د امریکا د دوو ولسمشرانو نیکسن او جیرالډ فورډ د خارجه وزیر هنري کیسنجر ، سپیني ماڼۍ ته د خطرزنګ ته هم توجه په کار ده ، هغه ویلي چي) امریکا باید د کرونا بحران له امله ویشه شي ځکه وروسته له بحرانه به په نړیوال نظم کي په بشپړه توګه بدلون را منځ ته شي ، کیسنجر وړانـــدوینـه کوي د خپري شوي وبا له امله به سیاسي او اقتصادي کړکیچ دومره پراخ او اوږد شي چي تر راتلونکو نسلونو به وغزیږي او د ویروس له کبله به د ملتونو خپلمنځي اړیکي ، ټولنیز ، سیمه ایز او نړیوال پیوندونه کمزوري او د زوال په لور ولاړ شي.

کیسنجر د امریکا د Wall Street Journal په مجله کي یادونه کوي چي نوي نړیوال نظم د جوړښت په حال کي ده او امریکا باید ورته تیاري ولري ، د کرونا بحران به جهاني سیستم ته د تــــــل لپاره تغییر ورکړي (د نړۍ د سیاسي او اقتصادي شنونکو په باور د کرونا پاندیمي یواځي انسانانو ته خطر نه پیښوي بلکه په نړیوال نظم کي ئي د عدم اطمنان او بي باورۍ دوره هم را منځ ته کړه ، په دیپلوماتیکو اړیکو به هم بي تاثیره نه وي ، په نړیوال اقتصاد ئي ناوړه اغیز کړي ، د کرونا ویروس د خپراوي له کبله همدا څو میاشتي یاني له ډیسمبر ۲۰۱۹ م څخه تر دا مهاله په میلیونو خلکو کارونه له لاسه ورکړي ، په نیویارک او نورو هیوادو کي د ونـــډو بازارونه له کمښت او بحران سره مخامخ دي ، د

ډالرو ، نفتو ... نرخونه راولویدل ، داسي راپورونه هم شته چي چیني کرنسی به د ونډو په بازارونو کي د ډالرو سره برابره تبادله کیږي.

نړۍ د ۹۱ کاله وړاندي بحران په څېر له وحشت سره لاس او ګریوان ده یاني په ۱۹۲۹ تر ۱۹۳۳چي د نیویارک د ونډو په بازار کي داسي کړکیچ را پیدا شو چي اقتصادي مؤسسي ئي له سقوط سره مخامخ کړي او په ۱۰۰ ګونو زره کارګران او خلک بي کاره شول او هم د امریکا ځني بانکونه له ډیوالي کیدو او ماتي سره مخامخ شول.

کرونا وبا د یوه نړیوال جنګ د بدیل په حیث بڼه خپلوي ، اقتصادي اغیز ئي خوارا پراخ ده ، د تیلو مارکیټ د لا خرابیدو په حال کي ده ، د تیلو د تولید په سر د اوپک OPEC یاني د تیلو د تولید د صادرونکو هیوادو او روسیي په منځ کي اختلافات شته او د بي باورۍ فضائي ایجاد کړي ، او د دوي په منځ کي د جګړي او اختلاف نظر له امله د نوموړو توکو تقاضا او غوښتنه له تاریخي کمښت سره مخ ده په دغه هکله ډونالډ ټرمپ وویل (د تیلو د مارکیټ د لا ډیر خرابیدو د مخنیوي لپاره حکومت پلان لري چي 75 میلیونه بشکي تیل په ډیر ټیټ نرخ وپیري او په ملي ستراتیژیکو زیرمو کي ئي وساتي).

حقیقت دا دي چي د کروناویروس دنړیوال کیدو یا پانډیمي Pandemic اثر له کبله د نړۍ اقتصادي وضعیت له مرګوني ضربي سره مخامخ ده او د نړۍ اقتصادي کارپوهان او متخصصان وړاندوینه کوي چي که په راتلونکو هفتو کي د کرونا ویروس د خپراوي مخه ونه نیول شي او بحران مـــهـــار نه شي جهاني اقتصاد به له نفسه ولویږي. په کانادا کي د نړۍ د سیاسي او اقتصادي علومو د پروفیسور ، شوسودوفسکي له نظره هغه امریکائي ـ انګلیسي نفتي کمپنۍ چي د یـــورو اسیا د سترو نفتي کمپنیو نل لیکي او دالان کنټرولوي د کرونا بحران له وجي به کمزوري شي ، همدا ډول د ملګرو ملتو د خوړو د نړیوالي اداري ( WFP ) د خبرداري له مخي ، نړۍ د کرونا وبا له امله د " پراخي او تاریخي لوږي " له خطر سره مخامخ ده او له امکانه لیري نه ده چي د دغه بحران له کبله به په نړۍ کي بي ساري قحطي را منځ ته شي او په حکومتونو ئي غږ کړي چي د مخنیوي لپاره ئي اړین ګامونه پورته کړي.

د WFP مخکښ اقتصاد پوه عارف حسین وائي ( د وبـــا اقتصادي اغیز د هغو میلیونونو خلکو لپاره خوارا بوړنوونکي دي چي لا د مخه له ستوني نیول شوي دي ) یاني د هغو خلکو لپاره چي یوائي هغه وخت خوراک کولي شي چي ورځني کار وکړي ،

د خوړو د نړیوال پروګرام له نظره ، د افغانستان په ګډون هغه لس هیوادونه چي له جګړي ، اقتصادي بحران او اقلیمي بدلون څخه اغیزمن دي له خوارا ډیر خطر سره مخ کیداي شي ، ځکه دا له دویمي نړیوالي جګړي تر ټولو بد انساني ناورین ده .

په پاي کي تر ننۍ نیټي ۲۳-۴-۲۰۲۰ پوري په ټوله نړۍ کي 2,697,316 : خلک په کرونا وبا مصاب شوي ، 188,857 مړه او 739,945 خلکو روغتیا موندلي.

پـــــــــــــــــــه ګران هیواد افغانستان او ټوله نړۍ کي د کرونا نړیوالي وبا او نورو ویروسونو د بشپړي نابودۍ په هیله .

یاددونه : د پورتنۍ مقالي لپاره :

=>د دي دیپلوماتیک ویب پاڼه

=>د فرنټیر اخبار ویب پاڼه

=>د لوموند دیپلوماتیک سایټ

=>د تاند ، VOA ، جنګ سایټونه ، مطالعه شوي دي.